# د چاپیریال ساتنې په هکله د عامه پوهاوي پیغامونه

د ډیرو زړو موټرانو ، موټرسیکلانو ، او جنریټرانو استعمال هوا ککړه
کوی نو هڅه وکړی چی دهغوی پر ځای نوی استعمال کړی ، که چیری
مناسبه وی د پښو تګ وکړی او یاهم د بایسکلانو څخه کار واخلئ





دخپل بچیانو راتلونکی ژوند وژغوری ،ونې کښینوی او دځنګلونو ساتنه
وکړی ، ځکه ونې د طبیعي ښکلا مخنیوئ کوي اوهم د پاکې هوا په
تولیدولو او په هوا کې د خطرناک ګاز (کاربن) د کموالي لامل هم ګرځي

د طب علم د نوي څیړنې له مخې په بازارونو کې پلاستیکي کڅوړې
خوراکي توکو ته مکروبونه انتقالوي، نو راځی ځان او خپلې کورنۍ ته له
مکروبونو څخه د پاکو
خوراکي توکو د راوړلو
لپاره ساده کڅوړې(د
ټوکر څخه جوړشوي
کڅوړو ) څخه کار واخلئ







پاک چاپیریال او روغ ژوند را منځته کول زموږ خپل
په لاس دی که زموږ هر مشر او کشر انبار(کثافات) د
اوسیدو له سیمې څخه لرې وغورځوي او فضله مواد
له ښاره څخه لرې کوم ټاکل شوي ځای ته وایستل شي
نو ژوند به ډیر هوسا او سوکاله شي

## چاپیریال ساتنه



دګل بوټو او دونو چپ چاپیر
غوچکی جوړی کړی ،ترڅو اوبه
بیځایه ولاړی نشی



د یوه ټن کاغذ د جوړولو لپاره ۱۷ونې له منځه ځي ،نو راځئ هڅه وکړو چې
لږ تر لږ کاغذ وکارو ترڅو چې د ونو د پریکیدو کچه ټیټه شي



زراعت ،کرونده ، درختې او ګلان مو سهار د لمر خاته او مازدیګر دلمر
لویدو پر وخت کښی اوبه کړی چی اوبه یی تبخیر نشی



بیشکه چې څښتن تعالي حشرات هم دخاص مقصد لپاره خلق کړیدي نو هڅه
وکړئ چې حشره وژونکي دواوې داړتیاؤپرته و نه کاروی ځکه دا ځیني ګټور
چینجی هم وژنی اوزراعتی محصولاتو او هوا ته هم تاوان اړوي

د خپل نږدې چاپیریال د
زرغونتیا لپاره هغه ونې یا
تخمونه وکرئ کوم چی لږ اوبه
غواړی لکه لوبیا ،نخود ،باغلی
او داسې نور حبوبات



څښتن تعالي د انسان لپاره کائینات په
بیلابیلو مخلوقاتو ښکلئ پیدا کړئ دی
موږ باید د څښتن تعالي د دغه حیواناتو د
ځورلو ، په قفس کې د بندولو وژلو او
ښکار څخه ډډه وکړو ترڅو چې هم مو
چاپیریال ښکلئ پاته وي او هم د دغو بې
ژبو له آزار څخه ځان ساتلی وي



Human Resources
Development Agency (HRDA)

د بشري قواوو
د انکشاف اداره (بقاء)